AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅر

۲۰۲۴/۰۳/۱۵

# د یهودو عادلانه جګړې

## (۲۲برخه)



(اسراییل قصابان او د غزې ماشومان د مرګ او لوږې په حالت کې)

### **د یهودو بت‌پرستی (۱)**

لکه څه ډول چې یهود دعوه لري چې د یوه خدای عبادت کوي او د یوه خدای پر وحدانیت ټینګار هم کوي خو د یهودو دیني او تاریخي منابع بیا د دوی د ادعاګانو برعکس څرګندونې کوي. له ابراهیم او اسحاق وروسته یعقوب چې د اسراییلو پلار ؤ، د هغه په کورنۍ کې بتان لیدل شوي دي، داسې چې د یعقوب ښځې (راحیلې) له خپل پلار (لابان) څخه بتان غلا کړي او د یعقوب کور ته یې راوړي وو. له دې څخه ښکاري چې د یعقوب خسر بتان لمانځل او لور یې چې د یعقوب ښځه وه، د بتانو مینه‌واله وه، ښایي چې هغه هم د خپلې پلارګنۍ په څېر بت‌پرسته وي، وایي چې هغه مهال چې یعقوب په بین‌النهرین کې له خپل خسر او ماما لابان سره اوسیدهٔ چې وروسته د ځینو خپل‌منځي مخالفتونو له امله یعقوب له خپلې کورنۍ او څارویو سره له بین‌النهرین څخه د کنعان پر لور چې د یعقوب پلار اسحاق هلته اوسیده، ولاړ:«یعقوب له خپلې شتمنۍ سره یو ځای وتښتید، دوی د فرات له سینده پورې‌وتل او د جلعاد غرنۍ سیمې پر لور وړاندې ولاړل. **راحیله (راحیل) چې [د یعقوب ښځه او د لابان لور وه] د خپل پلار کورني بُتان غلا او له ځانه سره یوړل.»** (د پیدایښت کتاب:۳۱/۲۰-۲۱)

هغه وو چې لابان له خپلو کسانو سره په یعقوب پسې ورغی، کله چې په یعقوب پسې ورسید نو ورته ویې ویل:«ولې دې زه وغولولم او زما لونه دې د جنګي اسیرانو په څېر له ځانه سره بوتلې؟... زه دا توان لرم چې تا ته زیان ورسوم خو تېره شپه ستا د پلار خدای راته څرګند شو ویې ویل: *پام کوه چې یعقوب ته څه ونه وایې.* له دې ټولو چې تېر شو تا چې غوښتل خپل پلرني ټاټوبي ته ستون شې **نو ولې دې زما بتان غلا کړل؟**

یعقوب وویل: زما د پټې تېښتې علت دا ؤ چې زه وېریدم هسې نه چې خپلې لونه له ما څخه په زور وګرځوې خو ستا بتان چې په موږ کې چا غلا کړي وي ودې وژل شي، که د خپل مال څخه دې کوم شی دلته وموند د دغو سړیو پر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وړاندې لوړه کوم چې هغه به پرته له پلمې ښخه بېرته درکوم. (یعقوب نه پوهیده چې راحیلې بتان له خپل ځان سره راوړي دي.)
لابان پلټنه پیل کړه. لومړی یې د یعقوب کېږدۍ ولټوله، بیا یې د (لیه) او وریښې یې د یعقوب د مینځو کیږدۍ ولټولې خو بتان یې ونه موندل. په پای کې د راحیلې کېږدۍ ته ورغی. راحیلې چې بتان یې غلا کړي وو هغه یې د اوښ د کتې لاندې پټ کړي وو او پر هغه باندې ناسته وه. دا چې لابان په زیرکۍ سره کېږدۍ وپلټله څه یې ونه موندل. نو راحیلې خپل پلار ته وویل: پلاره! ما وبښه، نه شم کولې ستا پر وړاندې نېغه ودرېږم زه د ښځو په میاشتني عادت کې یم.» (پیدایښت: ۲۶/۳۱-۲۹-۳۰تر۳۵پورې)

کله چې د یعقوب اویا[1] کسیزه کورنۍ مصر ته کډه شوه او (۴۳۰) کاله په مصر کې د غلامۍ په حالت کې پاتې شول، نو په دې موده کې اسراییلو د خپلو پلرونو: ابراهیم، اسحاق، یعقوب او یوسف دین په غوږ ډول پرېښود او د مصریانو دین یې غوره او د مصر د بتانو لمانځل یې پیل کړل. په مصر کې د اسراییلو د بت‌پرستۍ په اړه (یوشع) په یوه وینا کې اسراییلو ته وریادوي وایي: **«هغه بتان چې یو مهال ستاسو نیکونو د فرات سیند ها خوا او په مصر کې لمانځل، له ځانه لرې کړئ** او یوازې د یهوه خدای عبادت وکړئ.» (د یوشع کتاب: ۱۴/۲۴)
د مصر بت‌پرست دین د اسراییلو په قوم کې خورا ژورې ریښې غځولې وې، دا ریښې دومره ژورې وې چې د اسراییلو خدای یهوه چې هر څو کوښښ وکړ او ډول، ډول سزاګانې یې هم ورکړې خو بیا هم خپل غوره کړی قوم یې له پرله‌پسې بت‌پرستیو ونه ګرځولی شو او په بېلابېلو زمانو کې تر پایه په بت‌پرستیو کې پاتې شو. لومړی ځل د اسراییلو ځانګړي خدای یهوه په مصر کې اسراییلو ته وویل چې د مصریانو بتان ونه لمانځي خو اسراییلو د یهوه خدای غوښتنې ونه منلې او د پخوا په څېر یې خپلو بت‌پرستیو ته دوام ورکړ، په دې هکله د یهودانو یو تن نبي (حزقیال) د یهوه له قوله وایي:«ای خاورینه انسانه! دوی محکوم کړه، د دغه قوم ګناهونه د دوی د پلرونو له مهاله تر نن پورې ورپه یاد کړه، زما لخوا ورته ووایه: له هغه ځایه چې د اسراییلو قوم مې غوره کړ او په مصر کې مې ځان ورښکاره کړ، د دوی لپاره مې لوړه وکړه چې دوی به له مصر ښخه بهر اوباسم او هغې ځمکې ته به یې رسوم چې دوی ته مې په نظر کې نیولې وه، هغه ځمکه چې په هغې کې ګبینه او شیدې بهیږي او د نړۍ تر ټولو ښه سیمه ده. نو دوی ته مې وویل: **ستاسو د خوښې او کرکه‌اچوونکي بُتان له ځانه لیرې کړئ، د مصر د خدایانو د عبادت له امله ځانونه ناولي نه کړئ ځکه چې زه یهوه د دوی خدای یم خو دوی یاغي شول، زما خبرو ته یې غوږ نه کړ او د خپلو بُتانو او د مصر د خدایانو له لمانځلو لاس په سر نه شول** نو ومې وغوښتل چې خپل قهر او غضب هملته په مصر کې پرې نازل کړم خو د خپل نوم د درناوي د ساتلو لپاره مې دا کار ونه کړ، هسې نه چې مصریان د اسراییلو پر خدای پورې ملنډې ونه وهي او ووایي چې هغه ونه کړای شول دوی له زیان او بلا وژغوري.»(د حزقیال کتاب: ۴/۲۰تر۱۰پورې)
د اسراییلو قوم په مصر کې د مصریانو په څېر د غواګانو بُتان لمانځل، کله چې دوی له مصر راووتل په دې فکر کې وو چې د دوی د خدای یهوه بڼه د خوسکي په شان او یا دا چې خوسکی د یهوه رمز او سمبول دی نو د سینا په غره کې هغه مهال چې موسی د یهوه خدای سره د ملاقات لپاره غره ته پورته شوی ؤ، د طلایي خوسکي د بت جوړولو په هڅه کې شول. کله چې د سینا په غره کې د موسی بېرته راتلل وځنډېدل نو اسراییل د هارون پر وړاندې راټول شول ویې ویل:«پورته شه زموږ لپاره خدای جوړ کړه چې موږ ته لارښوونه وکړي، نه پوهیږو چې د موسی پر سر چې موږ یې له مصر را ایستلي یو څه راغلل، هارون وویل: د سرو زرو لښتۍ چې ستاسو د ښځو، لونو او زامنو په غوږونو کې دي راوړئ. هغه وو چې [داسراییلو] قوم د سروزرو لښتۍ هارون ته ورکړې، هارون د سرو زرو لښتۍ واخیستې ویلې (اوبه) یې کړې[2] او په هغه قالب کې یې واچول چې جوړ کړی یې ؤ، نو د خوسکي په شکل مجسمه یې ترې جوړه کړه، **دا چې د اسراییلو قوم د خوسکی [بُت] ولید ناړې یې پورته کړې، ای بني‌اسراییلو دا هماغه خدای دی چې تاسو یې له مصر څخه رایستلی یې.** هارون د دې حالت په لیدلو سره د هغې خوسکي پروړاندې قربان‌ځای جوړ کړ ویې ویل: سبا ورځ د یهوه خدای لپاره جشن جوړوم. سبا ورځ وختي خلک پورته شول او هغې خوسکي ته یې د سلامتۍ او سوځول‌شوي قربانۍ ترسره کړې، بیا کیناستل خوراک او څښاک یې وکړ او په شرموونکو کړنو یې پیل وکړ. یهوه خدای موسی ته وویل: په بیړې سره کوز شه، ستا قوم چې له مصر دې رابهر کړ فاسد شوی دی، دوی دومره ژر زما

1: د پیدایښت کتاب: ۲۷/۴۶.
2: دا هغه سره زر وو چې اسراییلو له مصریانو څخه په ټګۍ سره ترلاسه کړي وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

احکام هېر کړل او بې لارې شول چې ځان ته يې خوسکی جوړ کړی دی، د هغه عبادت کوي، قرباني يې ورته کړې ده وايي: دا هغه خدای دی چې تاسې يې له مصر څخه رایستلي یاست.

يهوه خدای موسی ته وويل: پوهېږم چې دا څومره سرغړوونکی قوم دی؟ پرېږده چې د خپل قهر اور پرې پورې کړم او تول ووژنم، د دوی پر ځای به له تا څخه يو لوی قوم رامنځ ته کړم. خو موسی له يهوه هيله وکړه چې دوی مړه نه کړي، ويې ويل: خدايه! ولې په خپل قوم باندې دومره په قهر شوی يې؟ تا پهخپل لوی قدرت او معجزو دوی له مصر څخه نه دي رایستلي؟ آيا غواړې مصريان دا ووايي چې خدای دوی وغولول، له دغه ځايه يې بوتلل، بيا يې په غرونو کې ووژل او د ځمکې له مخ يې ورک کړل. ستا څخه هيله کوم چې له خپل غضب څخه وګرځئ او د خپل قوم له مجازاتو تېر شئ، په ياد راوړه چې خپلو خدمت کوونکو، ابرهيم، اسحاق او يعقوب ته دې ويلي وو. په ياد راوړه چې څنګه دې په خپل ذات قسم کړی ؤ ويلي دې وو: ستاسو زامن به د آسمان د ستورو غوندې ډېر کړم.» (د هجرت کتاب: ۱۳/۳۲-۱؛ د ګردان کتاب:۹/ ۶-۲۹)

هغه مهال چې د اسراييلو خدای يهوه موسی ته لس حکمونه وسپارل نو په لومړي حکم کې اسراييل له بتپرستۍ څخه په سختۍ سره منع شوي وو، دا هم په کې راغلي چې که چا بتپرستي وکړه نو دا د يهوه خدای سره د دښمنۍ مانا لري، کله چې څوک له يهوه خدای سره دښمني وکړي د هغه تر دريیم او څلورم نسل پورې سزا هم ورکول کيږي:

«زه يهوه ستا خدای يم، هماغه خدای چې ته مې د مصر له اسارت او غلامۍ څخه آزاد کړې.

پرته له ما د بل خدای عبادت ونه کړئ.

هېڅ ډول بُت د حيوان، الوتونکي مرغه يا د کب (ماهي) په څېر د ځان لپاره جوړ نه کړئ او د هغوی پر وړاندې ګونډې ونهوهئ، د هغوی عبادت ونه کړئ ځکه چې زه ستاسو غيرتي خدای يم، څوک چې له ما سره دښمني وکړي زه به هغوی او د هغوی اولادې ته تر دريیم او څلورم نسل پورې سزا ورکړم.» (هجرت: ۱/۲۰تر۶پورې)

له دې وروسته د اسراييلو قوم د موآبيانو د (بعل او فغور) بتانو پر لمانځلو پيل وکړ، هغه وو چې د اسراييلو ټول قوم بيا بتپرست شو او يهوه خدای يې په قهر کړ:«هغه مهال چې بني اسراييلو په (شطيم) کې پنډغالی جوړ کړ، نو د موآبيانو د قوم له جلکيو سره يې زناوې وکړې. دغو جلکيو له هغوی غوښتنه کوله چې د دوی د بتانو د قربانيو په مراسمو کې ګډون وکړي. اسراييلو د هغوی د قربانۍ غوښې خوړې او بتان يې لمانځل، **ډېره موده نه وه تېره چې ټولو اسراييلو د بعل، فغور بت (چې د موآبيانو خدای ؤ) پر عبادت پيل وکړ.** چې له امله يې د يهوه خدای قهر پر خپل قوم نازل شو. يهوه خدای موسی ته داسې امر وکړ: د اسراييلو ټول مشران اعدام کړه، په رڼا ورځ او زما پر وړاندې هغوی په دار وځړوه، تر څو زما شديد قهر له دې قوم څخه ليرې شي.» (د شمېر کتاب: ۱/۲۵تر۴پورې)

د اسراييلو ځانګړی خدای يهوه د خپل غوره کړي قوم د پرلهپسې بتپرستيو له امله تر پوزې راغلی ؤ، هغه وو چې يهوه خدای موسی ته (چې د خپل عمر په وروستيو ورځو کې ؤ) امر وکړ چې لاندې روحاني سندره چې د (موسی سرود) يې بولي وليکي، په نومړي سرود کې د اسرابيلو د تېرو او راتلونکو حالاتو يادونه او وړاندوينه شوي ده چې موږ يې ځيني اړينې برخې راخلو:

«د هغه [يهوه خدای] قوم فاسد شوی دی، د هغه د شرم سبب ګرځيدلی دی، نور هغوی د هغه زامن نه دي، بلکې بېلارې او سرکښ قوم دی.

ای احمقه او ناپوهه قومه!

آيا دا ډول د خپل خدای درناوی کوئ؟

آيا هغه ستا پلار او خالق نه دی؟

خو بني اسراييل ماړه شول نو ياغي شول
او (ژغورنکي ګټ[3]) يې هېر کړ.
هغوی د خپلو ناولو بتپرستيو له امله
يهوه خدای په قهر او د هغه غيرت يې پارولی.
هغو بتانو ته يې قربانۍ وکړې چې خدايان نه وو
هغو نويو خدايانو ته چې د دوی پلرونو هېڅکله نه پيژندل
هغه خدايان چې بني اسراييلو نه وو لمانځلي
...
کله چې يهوه خدای وليدل چې زامن او لوڼه يې څه کوي

---

[3]: ژغورونکی ګټ. تيږه يا ډبره، موخه د اسراييلو خدای دی.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په قهر او له دوی څخه بېزاره شو.
هغه وويل: دوی پرېږدم، هر څه چې وي پرې رادې شي
ځکه چې هغوی يو ياغي او خايين قوم دی.
دوی د پرديو او باطلو خدايانو پر لمانځلو زما قهر او غيرت راپارولی دی
...
اسراييل نادان او نه پوهيدونکی قوم دی.
دريغه چې شعور يې درلودلی او پوهيدلی چې ولې يې ماتي خوړلي ده.» (ګردان:۲/۲۴تر۲۹پورې)

موسی په خپل دور کې اسراييلو ته د هغوي د بت‌پرستيو له امله سختې سزاګانې ورکړې او ډېرې هلې‌ځلې يې وکړې چې د اسراييلو د بت‌پرستيو مخه ونيسي خو ويې نه شول کړای اسراييل په بشپړه توګه يوازې د يهوه خدای عبادت ته راوګرځوي.
د موسی له مرګ څخه وروسته د اسراييلو مشري يوشع بن نون ته ورکړای شوه (چې د اسراييلو تر ټول بې رحمه او ظالم قوماندان او مشر تېر شوی دی) سر بېره پر دې چې يوشع د اسراييلو يو سخت‌دريزه مشر ؤ خو د ده پر مهال د اسراييلو بت‌پرستۍ همداسې رواني وې او د دوی په منځ کې بتانو شتون درلود. د يوشع له مرګ څه موده وړاندې هغه اسرايیل راټول کړل او هغو ته يې وويل چې د يهوه خدای عبادت وکړي او هغه بتان چې د دوی په منځ کې دي له ځانه لرې کړي:«يهوه خدای ته درناوی وکړئ، د هغه خدمت په رښتينولۍ ترسره کړئ، **هغه بتان چې يو مهال ستاسو نيکونو د فرات سيند ها خوا او په مصر کې لمانځل، له ځانه لېرې کړئ** او يوازې د يهوه خدای عبادت وکړئ.
نن ورځ خپله پرېکړه وکړئ. غواړئ له يهوه خدای څخه پيروي وکړئ، يا له هغو بتانو څخه چې ستاسو نيکونو د فرات سيند ها خوا لمانځل او يا د اموريانو له بتانو څخه چې اوس مهال د دوی په هېواد کې اوستوګن ياست؟ خو په دې پوه شئ چې زه او زما کورنۍ به د يهوه خدای عبادت کوو..»
(د يوشع کتاب:۱۴/۲۴تر۱۶)
اسراييلو له يوشع سره ژمنه وکړه چې دوی به وروسته له دې د يهوه خدای عبادت کوي. نو يوشع وويل:«**ډېر ښه، اوس بايد هغه بتان چې ستاسو په منځ کې دي له ځانه لېرې کړئ** او خپل زړونه د اسراييلو خدای يهوه ته نږدې کړئ.»
(هماغه کتاب:۲۳/۲۴)



نېټه:۱۴۰۲/۱۲/۲۵ل. ل
**نور بيا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ